مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

ورځپاڼه
هیواد

چهارشنبه
۲۲ / محرم الحرا م / ۱٤٤۸ هـ ق
۱۷ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش
2026/JULY/8 م
خصوصي ګڼه: ۸۰ مه
پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۱ مه
دوره: اتمه

د شاپور ځدراڼ پر مړینه اسلامي امارت او کرېکټ بورډ خواشیني څرګنده کړه

د اسلامي امارت د ویاند مرستیال ملا حمدالله فطرت د افغان کرېکټ د پخواني او نومیالي توپ اچوونکي شاپور ځدراڼ د مړینې له امله ژوره خواشیني څرګنده کړې ده.

نوموړي د مرحوم له کورنۍ، د افغانستان کرېکټ بورډ او د هغه له مینه والو سره د غمشریکۍ ترڅنګ، له الله تعالی څخه مرحوم ته د جنت الفردوس او کورنۍ ته يې د جمیل صبر دعا کړې ده.

فطرت ویلي، شاپور ځدراڼ د افغانستان د کرېکټ په تاریخ او د هېواد د نوم په ځلولو کې نه هېرېدونکي خدمتونه ترسره کړي او مړینه يې د هېواد د ورزشي ټولنې لپاره ستره ضایعه ده.

دغه راز : د افغانستان کرېکټ بورډ د افغان لوبډلې د پخواني لوبغاړي شاپور ځدراڼ د مړینې په اړه ژوره خواشیني څرګندوي او د هغه مړینه له شک پرته ستره ضایعه بولي.

شاپور ځدراڼ د افغان کرېکټ د بنسټ ایښودونکو لوبغاړو له ډلې څخه و، چې ژمنتیا او نه ستړې کېدونکو هلو ځلو يې زموږ په هېواد کې د لوبې په وده او پرمختګ کې مهم رول لوبولی دی.

نوموړی د هغو ویاړلو لوبغاړو څخه و، چې د افغانستان کرېکټ د راولاړېدو او ودې لپاره يې ډېر کوښښونه وکړل او د هغو پلونو په رغونه کې يې مرسته وکړه، چې افغان کرېکټ يې نړیوال پړاو ته ورسوه.

ده د خپل ټول مسلک په اوږدو کې د افغانستان کرېکټ ته په عزت، زړورتیا او ویاړ سره خدمت وکړ.

د ده هلې ځلې او لاسته راوړنې به تل د افغانستان د کرېکټ تاریخ یو مهم څپرکی پاتې شي او د ملي لوبډلې په خدمت کې د هغه هڅې به هېڅکله . . .

۳مخ

د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیايي پلان منظور شو

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت خبر ورکړی، چې د برېښنا د پراختیا پنځه کلن پلان، چې تر دې وړاندې د اقتصادي کمېسیون له لوري د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخند په مشرۍ تائید شوی و، د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) له لوري منظور شوی دی.په دې پلان کې د کورنیو سرچینو له لارې د برېښنا د تولید ۲۵ پروژې، چې د اوبو، لمریزې انرژۍ، بادي انرژۍ او ډبرو سکرو پر بنسټ ولاړې دي، د ۱۳ نیمګړو پروژو بشپړول او د برېښنا د لېږد شبکې د پراختیا لپاره د ۲۳ نویو پروژو پلي کول شامل دي.همدارنګه، د برېښنا د سب‌سټېشنونو د جوړولو . . .

۳مخ

د چاپېریال ساتنې ادارې د لابراتواري خدمتونو د مدیریت طرحه تائید شوه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت وايي، چې د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د چاپېریال ساتنې عمومي ادارې د لابراتواري خدمتونو د مدیریت طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له بحث او هراړخیزې ارزونې وروسته د تائید وړ وبلل شوه.

د یاد معاونیت په وینا، د دې طرحې موخه د هوا، خاورې، اوبو او د غږ د کیفیت د معاینې لپاره د یو مرکزي، مجهز او معیاري لابراتوار فعالول دي، چې له خدماتو به يې نه یوازې اماراتي اداري، بلکې خصوصي . . .

۳مخ

سرلیکنه

د برېښنا پنځه کلن پلان؛ د پرمختګ لاره

برېښنا د هر هېواد د اقتصادي ودې، صنعتي پرمختګ او ځان بسیاینې له مهمو اړتیاوو څخه ده. هر څومره چې د برېښنا تولید زیاتېږي، همغومره د صنعت، پانګونې، کرنې او تولید لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کېږي. همدې ارزښت ته په پام، د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ د برېښنا د پراختیا پنځه کلن پروګرام منظور کړی، څو هېواد د انرژۍ په برخه کې د ځان بسیاینې پر لور عملي ګامونه واخلي. د دې پروګرام له مخې، د اوبو، لمریزې انرژۍ، باد او ډبرو سکرو له کورنیو سرچینو څخه د برېښنا د تولید ۲۵ پروژې عملي کېږي. ور سره د نیمګړو پروژو بشپړول، د نوو سب‌سټېشنونو جوړول، د لېږد مزي او د وېش شبکو پراخول هم د دې پروګرام مهمې برخې دي. د دغو پروژو پلي کېدل کولی شي د افغانستان د انرژۍ په نقشه کې اساسي بدلون رامنځته کړي. الحمدلله، افغانستان د برېښنا د تولید لپاره پراخې طبیعي سرچینې لري. د اوبو سیندونه، د لمر پیاوړې وړانګې، د باد مناسبې سیمې او د ډبرو سکرو زېرمې، هغه امکانات دي چې تر اوسه ترې بشپړه ګټه نه ده اخیستل شوې. اوس د دغو سرچینو پر فعالولو تمرکز د دې څرګندونه کوي چې هېواد غواړي خپلې اړتیاوې د خپلو امکاناتو له لارې پوره کړي. د کلونو راهیسې افغانستان د خپلې اړتیا ډېره برخه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو راواردوي. دا حالت هر کال د میلیونونو ډالرو د وتلو ترڅنګ، هېواد له اقتصادي او تخنیکي پلوه هم له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. هر ځل چې وارداتي برېښنا له خنډ سره مخ شوې، صنعت، سوداګري او د خلکو ورځنی ژوند هم اغېزمن شوی دی. د کورني تولید پراختیا کولی شي یادې ستونزې په تدریجي ډول راکمې کړي. د برېښنا زیات تولید یوازې د څراغونو روښانه کېدل نه دي. فابریکې، صنعتي پارکونه، کرنیز پروسس، سړې خونې، کانونه او لسګونه نور تولیدي سکټورونه د ارزانه او دوامداره برېښنا په شتون کې وده کوي. له همدې امله د برېښنا هره پروژه د کارموندنې، پانګونې او اقتصادي ودې لپاره هم نوې دروازې پرانیزي. د افغانستان اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې د زېربنايي پروژو پلي کولو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. د اوبو بندونه، د کانونو پراختیا، د اورګاډي پروژې، د سوداګریزو دهلېزونو پراخول او اوس د برېښنا پنځه کلن پروګرام د همدې پراخ لیدلوري برخه ده. دا اقدامات ښيي چې اقتصادي پیاوړتیا د هېواد له مهمو لومړیتوبونو څخه ده. افغانستان هغه وخت بشپړې اقتصادي خپلواکۍ ته رسېږي، چې د انرژۍ اړتیاوې په خپله پوره کړي. د پنځه کلن برېښنايي پروګرام بریالۍ پلي کېدل کولی شي هېواد د وارداتي برېښنا له درنې تکیې ورو ورو راوباسي، د کورنیو سرچینو ارزښت لوړ کړي او د اقتصادي ځان‌بسیاینې لپاره قوي زمینه برابره کړي. همدا هغه لاره ده چې د افغانستان د راتلونکي اقتصاد، صنعت او ملي پرمختګ لپاره به دوامدار بدلونونه رامنځته کړي.

د کتاب ارزونې کمېسیون غونډه ترسره شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت اړوند د کتاب ارزونې کمېسیون نوبتي ناسته د خپرونو چارو د معین مهاجر فراهي په مشرۍ ترسره شوه.په دې ناسته کې د یو شمېر کتابونو په اړه پرېکړې شوې او هغو کتابونو ته چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو سره سم لیکل شوي؛ د چاپ اجازه ورکړل شوې ده. په ناسته کې همدا رنګه د ۶۱ بېلابېلو . . .

۳مخ

د سیمې درې هېوادونه د څه باندې ۱۲۰ زره ماهرو افغان کارګرانو د جذب غوښتونکي دي

په افغانستان کې د کاري فرصتونو د محدودیت له امله، د کارګرانو اتحادیه وايي، چې له هېواده بهر د کارموندنې لپاره هڅې زیاتې شوې دي. د دغې اتحادیې په وینا، ایران، قطر او ترکیه د زرګونو ماهرو افغان کارګرانو د جذب غوښتنه کړې او په دې اړه له یادو هېوادونو سره تخنیکي خبرې روانې دي. د ورکړ شویو معلوماتو له مخې، قطر د ۳ زره، ترکیې د څه باندې ۲۰ زره او ایران د نږدې ۱۰۰ زره ماهرو افغان کارګرانو غوښتنه کړې ده.

TURKEY
IRAN

اتحادیه زیاتوي، که څه هم د دغو هېوادونو له خوا ټاکل شوي معیارونه سخت دي او تر ډېره پر ماهرو کارګرانو تمرکز لري؛ خو په هېواد کې د کارګرانو د ورتیا لوړولو لپاره روزنیز پروګرامونه پیل شوي دي.

د اتحادیې رئیس، عبدالمتین مولوي‌زاده، وايي: ((هغوی داسې ماهر کارګران غواړي چې معتبر اسناد او سندونه هم ولري. له همدې امله هڅه کوو، چې د کار وزارت د انسټېټیوټونو له لارې کارګران وروزو، اړین مهارتونه ور زده کړو او وروسته يې بهرنیو هېوادونو ته واستوو.»

اقتصادي کارپوهان هم وايي، دا بهیر کولی شي د بې‌کارۍ په کمولو او د کورنیو د عاید . . .

۳مخ

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر د یوه پلاوي په مشرۍ هند ته په سفر تللی

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت وايي، د دغه وزارت وزیر مولوي عطاءالله عمري د کرنې او مالدارۍ برخو کې د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا او تجربو د تبادلې په موخه هند ته سفر کړی دی.

د یاد وزارت په خبرپاڼه کې راغلي چې دغه سفر د کرنې، اوبولګولو، مالدارۍ، د کرنیزو محصولاتو د صادراتو او وارداتو، د تجربو د تبادلې او د یادو برخو په اړه د هند له بریالیو تجربو او لاسته‌راوړنو د ګټې اخیستنې په موخه ترسره کېږي. د خبرپاڼې له مخې، ټاکل شوې چې مولوي عطاءالله عمري به د دغه سفر پر مهال د هند د کرنې او بزګرانو د هوساینې وزارت له مسؤلینو، د هغه هېواد له یو شمېر لوړپوړو چارواکو او د خصوصي سکټور له استازو سره وګوري. سرچینې زیاته کړې، چې په دغو لیدنو کې به د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا، د کرنیزو اړیکو د پیاوړتیا، د تجربو د تبادلې، د نوې کرنیزې ټکنالوجۍ د معرفي کولو، د مالدارۍ سکټور د پیاوړتیا او د کرنیزو . . .

۳مخ

د هرات د غوریان مالګې کان د را ایستلو تړون لاسلیک شو

د کانونو او پټرولیم وزارت وايي، چې د هرات د غوریان ولسوالۍ د مالګې کان د لومړي بلاک د استخراج تړون يې له خصوصي شرکت سره د څه باندې ۳۱۵ میلیون افغانیو په ارزښت لاسلیک کړی دی.

د کانونو او پټرولیم وزارت په خبرپاڼه کې ویلي، چې د دغه وزارت وزیر ملا هدایت‌الله بدري د هرات د غوریان ولسوالۍ د نمکسار سیمې . . .

۳مخ

د ملګرو ملتونو لوړپوړو چارواکو په بلخ کې له ځینو پروژو لیدنه کړې

د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام مشر الکساندر ډي کرو او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر برهام صالح مزارشریف ته د خپل سفر پر مهال له هغو پروژو لیدنه کړې، چې د دغو دوو ادارو تر ملاتړ لاندې پلي کېږي.

دغو دوو چارواکو په دې سفر کې د نړیوالو مرستو د دوام لپاره د اسلامي امارت پر همکارۍ، د ټولو هېوادوالو له ورتیاو پر ګټې اخیستنې او له نړیوالې ټولنې سره د تعامل پر دوام ټینګار وکړ.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر، برهام صالح وايي: ((افغانستان هغه هېواد دی چې بنسټیزې زېربناوې يې سختې زیانمنې شوي. له همدې امله، نړیواله ټولنه باید له افغانستانه خپل ملاتړ دوامداره وساتي. همدارنګه، مسؤلین باید خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.)) الکساندر ډي کرو هم و ویل، چې په افغانستان کې ډېرې چارې سمې دي.

د عدلیې وزیر:

ډاکټران دې خپل مسلکي حیثیت وساتي او له سیاسي تړاوونو دې ډډه وکړي

د عدلیې وزیر د خصوصي روغتونونو له مسؤلینو او ډاکټرانو سره په لیدنه کې له هغوی غوښتي، چې خلکو ته دې په صادقانه ډول خدمات وړاندې کړي او له هر ډول حزبي فعالیتونو دې ډډه وکړي.

د یاد وزارت خبرپاڼه کې راغلي، چې د عدلیې وزیر مولوي عبدالحکیم شرعي د خصوصي روغتونونو له یو شمېر مسؤلینو او ډاکټرانو سره وکتل. شرعي ویلي، چې ډاکټران انسانیت او ټولنې ته د خدمت برخه کې لوړ مقام او حیثیت لري او اړینه ده چې خپل ځای او حیثیت وپېژني. ده زیاته کړې، چې په دنیا او اخرت کې عزت د خلکو په خدمت کولو کې نغښتی او د خصوصي روغتونونو له مسؤلینو يې غوښتي چې خلکو ته په صادقانه ډول په خدمت کولو کې هڅه وکړي. د نوموړي په خبره: «د خصوصي روغتونونو مسؤلین دې له هر ډول حزبي فعالیتونو او حزبي وابستګۍ . . .

۳مخ

اقتصادي تنوع؛ په یو عاید باید بسنه ونه شي

عبدالباسط

د نړۍ د اقتصاد تاریخ دا حقیقت په ځلونو ثابت کړی چې هغه هېوادونه د اوږدمهاله ثبات، دوامدارې ودې او اقتصادي خپلواکۍ پړاوونو ته رسېدلي چې خپلې سرچینې یې په یوه عاید نه دي محدودې کړې. هر اقتصاد چې یوازې پر یوه محصول، یوه طبیعي زېرمه، یوه سوداګریزه لار او یا یوه مالي سرچینه تکیه وکړي، د کوچنیو او لویو بدلونونو پر وړاندې ژر زیانمنېږي. برعکس، هغه اقتصاد چې کرنه، صنعت، کانونه، سوداګري، خدمات، ټکنالوژي او نور تولیدي سکټورونه په متوازن ډول وده ورکړي، د بحرانونو پر وړاندې ډېر مقاومت لري او د پرمختګ لپاره پراخ فرصتونه پیدا کوي. له همدې امله اقتصادي تنوع د معاصر اقتصاد له مهمو اصولو څخه ده او د ملتونو د مالي ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري.

اقتصادي تنوع په ساده مفهوم دا معنا لري چې د یوه هېواد عاید د بېلابېلو سرچینو له لارې تأمین شي. دا سرچینې کولای شي کرنه، صنعت، انرژي، صادرات، سیاحت، ټرانزېټ، خدمات، ټکنالوژي، کانونه او نور اقتصادي فعالیتونه وي. کله چې د دغو برخو ترمنځ مناسب توازن موجود وي، د یوې برخې ستونزه د ټول اقتصاد د ټکني کېدو لامل نه ګرځي. همدا ځانګړنه د اقتصاد د انعطاف وړتیا لوړوي او د راتلونکو بدلونونو پر وړاندې د هېواد مقاومت پیاوړی کوي.

قرآن کریم انسان د کار، تولید او د الله تعالی د نعمتونو د لټون لوري ته هڅوي. الله تعالی فرمايي: (فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ) [الملک: ۱۵]؛ یعنې: «د ځمکې په بېلابېلو برخو کې وګرځئ او د الله له روزۍ څخه ګټه واخلئ.» په دې الهي لارښوونه کې د رزق د ترلاسه کولو لارې په یوه فعالیت نه دي محدودې شوې، بلکې انسان ته د هڅې، کار او مشروع اقتصادي فعالیت پراخ افق پرانېستل شوی دی. دا لید د دې سبب کېږي چې ټولنه د خپلو اقتصادي فرصتونو د پراخولو لپاره تل نوې لارې ولټوي.

د اسلامي تمدن اقتصادي تاریخ هم د تنوع ښکاره بېلګه وړاندې کوي. مسلمانانو د کرنې، صنعت، سوداګرۍ، سمندري راکړې ورکړې، لاسي صنایعو او علمي تولید ترمنځ متوازن اړیکه رامنځته کړې وه. بغداد، دمشق، قرطبه، بخارا او قاهره د بېلابېلو اقتصادي فعالیتونو له امله د خپل وخت د سوکالو ښارونو له ډلې وو. په دغو ښارونو کې بازارونه، کارخونې، کرنیز تولید، علمي مرکزونه او نړیوال تجارت یو له بل سره تړلي وو او همدې تنوع اقتصادي ځواک رامنځته کړی وو.

د نړۍ معاصر اقتصاد هم د همدې اصل پر بنسټ حرکت کوي. هغه هېوادونه چې خپل عاید یې یوازې پر نفتو، ګازو او یا یوه صادراتي توکي محدود کړی، د نړیوالو بیو د بدلون پر مهال له سختو مالي ستونزو سره مخ شوي دي. په مقابل کې، هغه دولتونه چې صنعت، ټکنالوژي، کرنه، مالي خدمات، سیاحت او نوښت ته وده ورکړې، د نړیوالو اقتصادي بدلونونو اغېزې یې په نسبي توګه کمې احساس کړې دي. دا تجربه څرګندوي چې د عاید د سرچینو تنوع د اقتصادي ثبات لپاره اغېزمنه وسیله ده.

کرنه د اقتصادي تنوع مهمه برخه ده، خو که خام محصولات بازار ته وړاندې شي، ارزښت یې محدود پاتې کېږي. کله چې کرنیز تولیدات پروسس شي، معیاري بسته‌بندي ورته برابره شي او نړیوالو بازارونو ته صادر شي، اقتصادي ارزښت یې څو برابره لوړېږي. له همدې امله د کرنې ترڅنګ د خوړو صنعت، سړې خونې، بسته‌بندي او لوژستیک هم د اقتصادي ودې مهم عوامل دي.

صنعت د تنوع بل مهم اړخ دی. خام مواد د پروسس له لارې په لوړ ارزښت لرونکو تولیداتو بدلېږي او د کارموندنې پراخ فرصتونه رامنځته کوي. د نساجۍ، خوراکي توکو، ساختماني موادو، درملو، فلزاتو او لاسي صنایعو صنعت د هر هېواد اقتصادي ظرفیت لوړوي. هره فابریکه چې تولید پیل کړي، ورسره ټرانسپورټ، سوداګري، بانکداري او نور خدمات هم وده کوي.

د خدماتو سکټور په معاصر اقتصاد کې ورځ تر بلې پراخېږي. بانکداري، مخابرات، روغتیا، ښوونه، معلوماتي ټکنالوژي، بیمه، ټرانسپورټ او لوژستیک د عاید مهمې سرچینې دي. په ډېرو پرمختللو هېوادونو کې د ملي عاید لویه برخه د همدې خدماتي فعالیتونو له لارې ترلاسه کېږي. دا بدلون ښيي چې اقتصاد نور یوازې پر دودیزو تولیداتو نه راڅرخي، بلکې فکري او تخنیکي خدمتونه هم ستر اقتصادي ارزښت پیدا کړی دی.

د صادراتو پراختیا د اقتصادي تنوع لپاره ځانګړې اهمیت لري. هغه هېواد چې یوازې یو یا دوه ډوله صادرات ولري، د بازار د بدلونونو پر وړاندې ډېر حساس وي. که صادرات متنوع شي، د خطر کچه راټیټېږي او د نړیوالو بازارونو فرصتونه پراخېږي. د کرنیزو محصولاتو، صنعتي تولیداتو، لاسي صنایعو، کانونو او خدماتو ګډ حضور د صادراتو پیاوړتیا تضمینوي.

افغانستان د اقتصادي تنوع لپاره بېلابېل فرصتونه لري. حاصل خېزې کرنیزې سیمې، د کانونو پراخې زېرمې، ځوان بشري ځواک، د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ جغرافیایي موقعیت او د لاسي صنایعو اوږد تاریخ هغه ظرفیتونه دي چې د سم مدیریت په صورت کې د هېواد اقتصادي راتلونکی بدلولای شي. د دغو فرصتونو اغېزمنه استفاده د علمي پلان، پانګونې، زېربناوو او مسلکي کادرونو غوښتنه کوي.

ټرانزېټ هم د افغانستان لپاره ارزښتناک اقتصادي فرصت دی. د سیمې د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ د لارې په توګه د هېواد موقعیت کولای شي د ټرانسپورټ، ګمرکونو، لوژستیکي خدمتونو او سوداګریزو مرکزونو د پراختیا لامل شي. هره نوې سوداګریزه لار او هره نوې سیمه‌ییزه پروژه د عاید نوې سرچینه رامنځته کوي او د اقتصادي فعالیتونو لمن پراخوي.

بشري پانګه د اقتصادي تنوع مهمه ستنه ده. روزل شوي انجنیران، کرنیز متخصصین، اقتصادپوهان، تخنیکران، معلوماتي ټکنالوژۍ کارپوهان او مسلکي کارکوونکي د نوو اقتصادي سکټورونو د ودې لپاره اړین دي. هغه ټولنه چې د خپلو ځوانانو پر زده کړو او مهارتونو پانګونه کوي، د راتلونکو کلونو لپاره د عاید نوې سرچینې هم رامنځته کوي.

اقتصادي تنوع له نوښت او څېړنې سره هم ژوره اړیکه لري. د بازارونو اړتیاوې بدلېږي، د مصرفوونکو غوښتنې نوې بڼه خپلوي او ټکنالوژي هره ورځ نوې دروازې پرانیزي. هغه اقتصاد چې د دغو بدلونونو درک ولري او د علم پر مټ ورته ځواب ووايي، د سیالۍ په ډګر کې به پیاوړی پاتې شي.

هو اقتصادي تنوع د مالي ثبات، دوامدار پرمختګ او اقتصادي خپلواکۍ له مهمو رازونو څخه ده. هغه هېواد چې د خپل عاید سرچینې پراخې کړي، د تولید، صنعت، کرنې، خدماتو، صادراتو او نوښت ترمنځ متوازن پرمختګ رامنځته کړي، د نړیوالو اقتصادي بدلونونو پر وړاندې به ډېر مقاومت ولري. د تاریخ تجربې، د اسلامي تمدن اقتصادي میراث او د معاصرې نړۍ بریالۍ بېلګې ټول دا پیغام ورکوي چې د یوه عاید پر ځای د ګڼو اقتصادي فرصتونو رامنځته کول د سوکاله او باثباته راتلونکې لپاره تر ټولو اغېزمنه لاره ده.

پوهنتون د مصنوعي ځیرکتیا په عصر کې؛ ایا لوړې زده کړې لا هم اړینې دي؟

خالد افغان

له زرګونو کلونو راهیسې ښوونځي او پوهنتونونه د علم، څېړنې او فکري ودې تر ټولو معتبر مراکز ګڼل شوي دي. د بشري تمدن ډېری علمي لاسته راوړنې د همدې بنسټونو له لارې رامنځته شوې او لا هم د ساینسي او تیوریکي زده کړو په پار په ټوله نړۍ کې میلیونه ځوانان همدې مراکزو ته مراجعه کوي. د بشریت سترې علمي لاسته راوړنې، له طبي کشفیاتو نیولې تر فضايي ټکنالوژۍ، د فزیک او کیمیا تر نویو نظریو او د ټولنیزو علومو تر مهمو موندنو پورې، د پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو په لابراتوارونو او علمي چاپېریالونو کې رامنځته شوې دي.

د نړۍ په بېلابېلو ټولنو کې د بریا او پرمختګ دودیزه لاره دا وه چې یو ځوان به ښوونځی پای ته ورسوه، پوهنتون ته به داخل شو او له لوړو زده کړو وروسته به یې مسلکي ژوند پیل کاوه. خو نن ورځ مصنوعي ځیرکتیا دغه دودیز تصور له جدي پوښتنو او ننګونو سره مخ کړی دی.

تر ټولو لومړی بدلون د معلوماتو د ترلاسه کولو په برخه کې راغلی دی. پخوا پوهنتونونه د معلوماتو او پوهې اصلي زېرمې وې؛ خو اوس هر څوک کولی شي د څو ثانیو په موده کې د نړۍ له بېلابېلو علمي سرچینو څخه معلومات ترلاسه کړي. مصنوعي ځیرکتیا د یوې پوښتنې په ځواب کې سلګونه کتابونه، مقالې، څېړنې او تجربې را لنډوي او د کاروونکي مخې ته یې ږدي. له همدې امله د پوهنتونونو هغه انحصاري موقف چې یو وخت یې د معلوماتو په وړاندې کولو کې درلود، ورځ تر بلې کمزوری کېږي.

خو اوس یوه پوښتنه راپورته کېږي چې ایا علم یوازې معلومات دي؟ ځواب یې منفي دی. معلومات د زده کړې یوازې یوه برخه ده. پوهنتون د معلوماتو د لېږد تر څنګ د تحلیل، انتقاد، څېړنې، عملي تجربې او فکري روزنې مرکز هم دی. یو محصل یوازې کتابي مفاهیم نه زده کوي؛ هغه د بحث کولو، د نظر دفاع کولو، د ګډ کار کولو او د ستونزو د حل کولو وړتیا هم ترلاسه کوي. دا هغه مهارتونه دي چې لا هم په بشپړه توګه د مصنوعي ځیرکتیا له لارې نه شي رامنځته کېدای.

سره له دې، د پوهنتونونو راتلونکی پوره پوره ننګول کېدای شي او حتی هغه ورځ هم ممکنه ده چې یو وخت یې بیخي تغر ټول شي. که د پوهنتونونو اصلي فعالیت یوازې د معلوماتو انتقال وي، نو مصنوعي ځیرکتیا به یې په ډېرو برخو کې ځای ونیسي. ځکه مصنوعي ځیرکتیا د یوه استاد په پرتله چټک، ارزانه او تر ډېره حده شخصي خدمت وړاندې کوي. یو استاد په یوه ټولګي کې ښايي پنځوس زده کوونکو ته په یو میتود تدریس وکړي؛ خو مصنوعي ځیرکتیا هر زده کوونکي ته د هغه د ذهني کچې، ژبې، اړتیا او د زده کړې د سبک له مخې بېل توضیحات وړاندې کولی شي.

همدا ځانګړتیا د مصنوعي ځیرکتیا تر ټولو ستر قوت بلل کېږي. هر زده کوونکی کولای شي په خپل سرعت زده کړه وکړي، د یوې ستونزې په اړه لس ځله پوښتنه وکړي، بېلابېل مثالونه وغواړي او تر هغه وخته وضاحت ترلاسه کړي چې موضوع په بشپړه توګه درک کړي. په حقیقت کې اې ای د هر انسان لپاره د یوه شخصي ښوونکي رول لوبوي؛ داسې ښوونکی چې شپه او ورځ ستړی نه شي او هر وخت حاضر وي.

د همدې واقعیت له امله د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د زده کړې دودیز ماډل له جدي بدلون سره مخ شوی دی. ګڼ شمېر زده کوونکي اوس د پوهنتون تر څنګ خپلې اصلي مسلکي زده کړې د انلاین کورسونو، یوټیوب، ډیجیټلي پلېټفارمونو او مصنوعي ځیرکتیا له لارې ترلاسه کوي. په ځانګړي ډول د کمپیوټر ساینس، سافټویر انجینرۍ، ډیجیټل بازارموندنې او ځینو تخنیکي برخو کې دا بهیر ورځ تر بلې پراخېږي.

خو د پوهنتون د ارزښت د کمېدو معنا دا نه ده چې لوړې زده کړې به له منځه ولاړې شي. برعکس، پوهنتونونه باید خپل رول له سره تعریف کړي. د راتلونکې پوهنتون باید د معلوماتو د انتقال پر ځای د مهارتونو، نوښت، څېړنې او عملي تجربې مرکز وي. هغه څه چې یو زده کوونکی یې په څو ثانیو کې له مصنوعي هوښ څخه ترلاسه کولی شي، نور باید د څلور کلنې زده کړې اصلي محتوا نه وي.

په ځانګړي ډول د افغانستان په څېر هېوادونو کې، چې د زده کړو فرصتونه محدود دي، مصنوعي ځیرکتیا د میلیونونو ځوانانو لپاره یو نوی فرصت بلل کېږي. یو ځوان چې مالي امکانات نه لري، پوهنتون ته لاسرسی نه لري یا د نړۍ له معتبرو استادانو څخه لرې ژوند کوي، اوس کولای شي د خپل موبایل او انټرنېټ له لارې د نړۍ له علمي سرچینو ګټه واخلي. دا له علم څخه د هر اړخیزې او ټولشمولتیا یوه تاریخي مرحله ده.

خو د اې ای په اړه بل مهم بحث د اعتبار او باور موضوع ده. مصنوعي ځیرکتیا خپله پوهه نه تولیدوي؛ بلکې د موجودو معلوماتو پر بنسټ ځوابونه برابروي. دغه معلومات هم تر ډېره د څو محدودو ټکنالوژیکو شرکتونو له خوا مدیریت کېږي. له همدې امله د معلوماتو د کره‌والي، تعصب، ناسم تفسیر او فکري انحصار خطرونه لا هم موجود دي. برعکس، پوهنتونونه د څېړنې، علمي نقد، همکارې ارزونې او اکاډمیکو معیارونو له لارې د معلوماتو د اعتبار لپاره نسبتاً پیاوړي میکانیزمونه لري.

سره له دې چې مهارتونه ورځ تر بلې مهم کېږي؛ خو لا هم په ګڼو برخو کې پوهنتوني سند خپل اهمیت لري. د طب، انجینرۍ، حقوقو، درمل جوړونې، اروپوهنې او لسګونو نورو مسلکونو لپاره یوازې معلومات کافي نه دي. دلته د عملي روزنې، مسلکي جواز، اخلاقي مسؤلیت او قانوني اعتبار مسئله مطرح ده. هیڅ ټولنه نشي کولای یوازې د اې ای د ځوابونو پر بنسټ یو جراح، قاضي، ساختماني انجنیر یا د الوتکو پیلوټ وروزي. په دغو برخو کې د انساني څارنې، عملي تجربې او مسلکي ارزونې اړتیا تل پاتې ده. له همدې امله به پوهنتونونه په ځینو برخو کې خپل محوري رول وساتي، که څه هم د تدریس طریقې به یې بدلې شي.

له بلې خوا، د مصنوعي ځیرکتیا چټک پرمختګ ژور اخلاقي او فلسفي بحثونه هم راپورته کړي دي. که راتلونکی نسل یوازې د ماشینونو له لارې زده کړه وکړي، د انساني اړیکو، ټولنیز تعامل، احساساتي هوښیارۍ او اخلاقي روزنې برخلیک به څه وي؟ ایا انسان کولای شي د ټولنیزو تجربو، علمي مناظرو او مخامخ تعاملاتو تشه یوازې د مجازي وسیلو له لارې ډکه کړي؟ دا هغه پوښتنې دي چې لا هم روښانه ځواب نه لري.

حقیقت دا دی چې د راتلونکې نړۍ اقتصاد به تر ډېره پر مهارتونو ولاړ وي، نه یوازې پر سندونو. شرکتونه او کار بازار به هغو کسانو ته لومړیتوب ورکړي چې ستونزې حل کړي، نوښت وکړي او ارزښت تولید کړي. که پوهنتونونه د مهارتونو په روزنه کې پاتې راشي، نو د سند ارزښت به ورو ورو کم شي. خو که دوی د څېړنې، عملي روزنې، خلاقیت او نوښت مرکزونه شي، لا هم به د بشري پرمختګ مهم بنسټونه پاتې وي.

پایله دا ده چې مصنوعي ځیرکتیا د پوهنتونونو لپاره یو جدي سیال دی؛ خو تر اوسه یې بشپړ بدیل نه دی. راتلونکی به د پوهنتون او اې ای د تقابل نه، بلکې د دواړو د همکارۍ وي. هغه زده کوونکي به بریالي وي چې هم له پوهنتوني چاپېریال څخه ګټه واخلي او هم د مصنوعي ځیرکتیا امکانات په سمه توګه وکاروي. په همدې ډول هغه پوهنتون به بقا ومومي چې د شلمې پېړۍ له تدریسي ماډل څخه ووځي او د یوویشتمې پېړۍ د ټکنالوژیکو واقعیتونو سره ځان عیار کړي. د علم راتلونکی نه یوازې د پوهنتون په دېوالونو کې بند دی او نه هم یوازې د مصنوعي ځیرکتیا په سرورونو کې؛ بلکې د دواړو د هوښیار ترکیب په پایله کې به رامنځته کېږي.

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود که وزارت شهر سازی و مسکن درنظر دارد تا پروژه تهیه وتدارک تیل دیزل و پطرول مورد ضرورت سال ۱٤۰۵ با کودتدارکاتی MUDH/1405 /NCB/W -1305 را به شرکت چکری پطرولیم دارای جوازنمبر ۸٦۹۰۲ به قیمت مجموعی ۱۰,۲٤۵,۰۰۰(ده ملیون و دوصد و چهل و پنج هزار)افغانی اعطاء نماید.

بنآ اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج (٥) روزکاری طورکتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی ومسکن واقع مکروریان سوم ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان مزایده

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد های ذیل واقع ٥ و ۸ شهر کابل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد.

۱.دوکان نمبر A-۹۱-۹۰-۸۹ بمساحت مجموعی ٥٤ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۲٤۲۰) افغانی، مدت یکسال.

۲. دوکان نمبر B-۷۱ بمساحت مجموعی ۱۸مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٥۱٦٦) افغانی، مدت یکسال.

۳. دوکان نمبر ۱۹-۱٤ بمساحت مجموعی ٤۱۳,٥ متر مربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه ٥ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۱٤۹٥۳) افغانی، مدت یکسال.

کوردینات (جی پی اس نمبر)
٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,٥۱٥۲۷۲

٤.موازی ٥٥۰ متر مربع زمین واقع چمن حضوری ، مقابل تلویزیون شمشاد عقب نانوایی مربوط ناحیه ۸ شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (٥۰۰٥۰) افغانی به اعلان مزایده می سپارد، مدت سه (۳) سال.

کوردینات (جی پی اس نمبر)
٦۹,۱۹۸۱۱٤ ۳٤,٥۱۸۸٥۳

اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱٤۰٥/٤/۱۷ الی ۱٤۰٥/٤/۲۳ به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس : سینما پامیر تعمیر ۱٤ منزله ، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس:(۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱٤۰٥/٤/۲٤به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

اطلاعیه کندز

ریاست معارف ولایت کندز در نظر دارد پروژه تهیه و تدارک قرطاسیه جات غیر مطبوع مورد نیاز چهار برنامه و حوزه های تعلیمی خویش را از طریق قرار داد داوطلبی باز تهیه و تدارک نماید، شرکت های امارتی، تجارتی و لوژستیکی که خواهش عقد قرار داد را داشته باشند، سر از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز کاری در ریاست معارف ولایت کندز مراجعه نموده شرطنامه را ملاحظه نموده و آفر اخذ نمایند.۳۱٦٦

اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات رضوان سروری دارنده جواز شماره (٥۱٤٥) به اسم محترم محمد ناصر فرزند محمد سرور واقع ناحیه ۳ مقابل مسجد اهل بیت موقعیت دارد و میخواهد به ساحه کوته سنگی مقابل لیسه محمود هوتکی ناحیه ۳ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد.۳۳۰۱

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم هاشم فرزند جان علی یک عراده موتر پلیت ۸٤٥۳۷-ل کابل نوع تیوتا کرولا مازدا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالهادی فرزند عبدالولی بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۲۹٦

اعلان مفقودی

تصدیق نامه های علایم تجارتی TOTAL S٦۲٥ AZOUA S٦۲۷ QVART۲ ELF RUBIA S٦۲۹ S٦۲۸ TOTAI ۸۰۸۹ TOTAI ۸۰۸۸ QVAR۹۲ ۹۸٤۲ مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث عنوانی تجارتی مرجان کوین نمبر ٥۰۰۸۷ به اسم مرجان مهربان سادات بنت سید قادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۳۲۹

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسم محمد یوسف فرزند عوض علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۳۲۸

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ۱۳ به اسم محمد امیر فرزند حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۳۳۰۰

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسم سمندر فرزند خداداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۹۷

اعلان مفقودی

به تعداد یک نقل سته معامله فروشی دارنده سریال نمبر (۳۹۹۷۲۳) از رهنمای معاملات عارف الله بشری به اسم محترم عارف الله فرزند نظیر گل دارنده جواز نمبر ٦٤٥۷ واقع قلعه نو کته بلندی ناحیه ۱۳ شهر کابل مفقود گردیده است بناء سته دفتر متذکره از اعتبار ساقط می باشد. ۳۳۱٦

د شاپور ځدراڼ . . .

هم هېرې نه شي له شک پرته د لوبو له نړۍ ورهاخوا هم شاپور ځدراڼ د ډېری افغان ځوان لوبغاړو او په ټوله نړۍ کې د کرېکټ مینه والو لپاره د الهام ریښتینې سرچینه وه. د ده د مبارزې روحیې، هوډ او له کرېکټ لوبې سره مینې ډېرو ته هیلې او امیدونه ورکړل او یو نسل یې وهڅاوه، ترڅو لوی خوبونه ووینې او د افغانستان د کرېکټ په راتلونکې باور ولري. افغانستان کرېکټ بورډ د شاپور ځدراڼ کورنۍ، ملګرو، د ملي لوبډلې ټولو لوبغاړو او د افغان کرېکټ ټولنې ته خپله ژوره خواخوږي وړاندې کوي. د ده مړینه له شک پرته یوه ستره او نه جبرانېدونکې ضایعه بولي چې یادونه به یې د افغانستان خلکو او د کرېکټ نړۍ په زړونو کې تل ژوندۍ وي.

اتله! روح دې ارام او د هغې دنیا له سکون ډک اوسه. باید ووېل شي چې د خدای بخښلي ځدراڼ د جنازې وخت او ځای به د نوموړي له کورنۍ سره له مشورې وروسته روښانه شي. انا لله وانا الیه راجعون.

د برېښنا انرژۍ . . .

په برخه کې د ۲۱ نیمګړو پروژو بشپړول، د ۲۱ نویو پروژو پلي کول او د برېښنا د وېش په برخه کې د ۳۴ پروژو عملي کول هم د دې پلان مهمې برخې دي.

د چارواکو په وینا، د دغه پنځه کلن پلان له پلي کېدو سره به د هېواد د برېښنا د تولید ظرفیت لوړ، پر وارداتي برېښنا به تکیه کمه او د هېواد په بېلابېلو سیمو کې به د برېښنا شبکې پراخې شي. همدارنګه، تمه کېږي چې د انرژۍ په سکټور کې د پانګونې د زیاتوالي، د صنعتي فعالیتونو د پراختیا، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او اقتصادي ودې لپاره مناسب زمینه برابره شي. د دې پلان اساسي موخه د انرژۍ په برخه کې ځانبسیا کېدل، د انرژۍ د امنیت پیاوړتیا او د هېواد د اقتصادي بیارغونې بهیر چټکول بلل شوي دي.

د چاپېریال ساتنې . . .

سکټور او نړیوال سازمانونه او پوهنتونونه هم ګټه اخیستلی شي.

همداراز په دې غونډه کې د معیار او کیفیت اداري پر یوشمېر داخلي معیارونو او بهر ته د افغاني غالیو د صادراتو د زیاتوالي پر موضوعاتو هم بحث وشو.

د سیمې درې هېوادونه . . .

په زیاتولو کې مهم رول ولوبوي؛ خو د کاري ځواک منظم مدیریت او روزنې ته اړتیا لري.

اقتصادي شنونکي میرشکیب میر وایي: «بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو استول په لنډمهال کې د استول شویو کارګرانو د کورنیو اقتصادي وضعیت ښه کولای شي او د هېواد د بېکارۍ د ستونزې یوه برخه راکموي.»

که څه هم د سیمې هېوادونو ته د افغان کارګرانو استول نوې موضوع نه ده؛ خو په اوسنیو شرایطو کې یو ځل بیا د افغانستان د کار بازار له مهمو بحثونو څخه ګرځېدلې ده.

د کرنې، اوبولګولو . . .

محصولاتو د صادراتو او وارداتو د پراختیا په اړه خبرې وشي.

د خبرپاڼې له مخې، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت پلاوی به د دغه سفر په ترڅ کې د هند له یو شمېر کرنیزو مرکزونو او پروګرامونو هم لیدنه وکړي، څو د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ برخو کې د هغه هېواد له عصري ټکنالوجیو او بریالیو تجربو ګټه واخلي.

د هرات د غوریان . . .

د مالګې کان د لومړي بلاک د استخراج تړون د «اسماعیل شېرزاد عزیزي د کانونو د استخراج او پروسس شرکت» له استازو سره لاسلیک کړی دی.

سرچینې زیاته کړې، دغه پروژه به په ۱۰.۲۴۱۱۴ کیلومتره مربع ساحه کې پلې شي او د پانګونې ارزښت یې ۳۱۵ میلیون او ۵۹۴ زره افغانۍ دی.

د کانونو او پټرولیم وزارت وزیر د تړون د لاسلیک پر مهال ویلي، د دغه کان د استخراج تړون د هر ټن پر سر د ۱۵۰۰ افغانیو امتیازي حق (رویالټي) او د ۱۵ کلونو مودې لپاره شوی دی.

هغه ټینګار کړی چې قراردادي شرکت مکلف دی خپلې ټولې چارې د کانونو قانون، اړوندو کړنلارو او په تړون کې د درج شوو ژمنو له مخې، په شفاف او مسؤلانه ډول ترسره کړي.

د خبرپاڼې له مخې، قراردادي شرکت به د امتیازي حق له ورکړې سربېره، پنځه میلیون افغانۍ د ټولنیزو خدمتونو په بېلابېلو برخو کې ولګوي او د چاپېریالساتنې برخه کې به هم خپلو ژمنو ته ژمن پاتې شي.

د کانونو او پټرولیم وزارت زیاته کړې چې د دې پروژې په پلي کېدو سره به یو شمېر هېوادوالو ته د مستقیم او غیر مستقیم د کار زمینه هم برابره شي.

ډاکټران دې . . .

ډډه وکړي؛ ځکه په هېواد کې د سیاسي ګوندونو فعالیت ممنوع دی، ښې پایلې نه لري او د ډاکټرانو لپاره هم مناسبه نه ده چې په کوم حزب یا تنظیم پورې تړلي وي.»

د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، شرعي د خصوصي روغتونونو د اتحادیې د فعالیت د څرنګوالي او دې اتحادیې لپاره د نوي رئیس د ټاکلو په اړه هم خبرې وکړې او ویې ویل، چې د اتحادیې فعالیت باید د اسلامي امارت د اصولو او قوانینو مطابق وي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، په دې کتنه کې د خصوصي روغتونونو مسؤلینو هم د خصوصي روغتونونو د اتحادیې د فعالیت په اړه لازم معلومات شریک کړل او ډاډ یې ورکړ چې د قوانینو او اصولو په چوکاټ کې به فعالیت کوي.

د کتاب ارزونې . . .

عنوانونو درلودونکي ۱۶۰ ټوکه صادر او وارد شوي کتابونه ارزول شوي او ۱۰ ټوکه راجع شوي کتابونه د کمېسیون غړیو ته سپارل شوي، چې په راتلونکې ناسته کې یې راپور وړاندې کړي. د ناستې په پای کې، د دیني کتابونو د یوه لیکوال د اثارو د چاپ په اړه خبرې شوې او په دې برخه کې د همکارۍ ژمنه شوې ده. هېره دې نه وي چې د پنځه انګلیسي عنوانونو (درسي تقویتي کتابونو) په اړه هم پرېکړه شوې ده.

د صنعت او کانونو . . .

پرمختګ لپاره صنعتي وده زیاته شي او وکولای شو هېواد د صنعت او اقتصاد په برخو کې په پښو ودرېږي.»

د ښاغلي عزیزي په وینا: «مالیه کمه شوې، جوازونو په ترلاسه کولو کې آسانتیاوو رامنځته شوي او مالیاتي جریمه په بشپړ ډول معاف شوې ده. دوی ته اوس فرصتونه شته دي چې دلته پانګونه وکړي او ملت لاسنیوی وکړي. پخوا به د هر ډول تولیداتو خام مواد له بهر څخه راوارد کېدل چې کیفیت یې ټیټ وه؛ خو اوس صنعت کاران په کور دننه په لوړ کیفیت مواد تولیدوي چې زمونږ ملاتړ ته اړتیا لري.»

د نوموړي په خبره: «د افغانستان اسلامي امارت له لوري ۱۵۰ زره جریبه ځمکه صنعت کارانو لپاره په بېلابېلو ولایتونو کې ځانګړې شوې چې له دې ډلې تېر کال ۵۷۶ شرکتونو ته ځمکه ور کړل شوې ده، چې ۱۹۱۴ نمرې او ۲۸۰۰ جریبه ځمکه وېشل شوې ده. ۵۹۰۰ شرکتونو د اسلامي امارت په راتګ سره جوازونه ترلاسه کړي دي.» د ده په وینا: «اوس د دوا په شمول په بېلابېلو برخو کې ۲۰۰۰ قلمه تولیدات لرو، د ۳۰۰ قلمه موادو په برخه کې پر ځان بسیا یو او هېڅ اجازه نه ورکوو چې زمونږ د پرمختګ ونیسي. په کومو برخو کې چې پر ځان بسیا یو، پانګوال دې د بهرنیو بازارونو د پیدا کولو په لټه کې ورته واوسي.

همداشان اوسمهال ۱۰۰۰ سکټورونه پېژندل شوي دي چې پانګوالو ته اړتیا لري. هر پانګوال چې غواړې پرې پانګونه وکړي، ورته اړین سهولتونه برابرېږي او ورته په بشپړ ډول پنځه کلنه مالیه معاف کېږي، نو کورني او بهرني پانګوال دې دلته په نوو سکټورنو کې پانګونه وکړي.» په ورته مهال د نندارتون د مطبوعاتو مسئول، منصور یوسفزي، وویل: «د صنعت او کانونو کورني او نړیوال نندارتون کې د B۲B ناستو په جریان کې د څه باندې ۱ میلیارد ډالرو په ارزښت په بېلابېلو برخو کې ۵۰ تفاهم لیکونه او قراردادونه لاسلیک شوي دي چې له دې ډلې یوازې ۱۰ قراردادونه د افغانستان د اوسپنې ویلو کولو ټولنې او د ایران هېواد د پلاوي ترمنځ د فابریکو د تجهیزاتو او خامو موادو په برخه کې لاسلیک شوي دي.»

زیارمل هوتک

کابل کې د کورونو . . .

پر کرایو څارنه وکړي او د کرایو د بېساري او بېکچې لوړېدو د مخنیوي لپاره لازم تدابیر ونیسي.

صدیقالله خپل نظر داسې بیانوي: «زما غوښتنه له اسلامي امارت څخه دا ده چې د کورونو کرایې راکمې کړي، ځکه خلک د لوړو کرایو د ور کولو وسه نه لري.

په کابل کې د کورونو د معاملاتو د دفتر مسؤل، احمد حسین بیا وایي: « د کورونو د کرایو د لوړېدو عمده لاملونه کابل ته د افغان کډوالو راستنېدل او د استوګنې د کورونو کمښت بلل کېږي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې، د ریاست الوزراء د حکم له مخې، د شرعي او اداري اسنادو له بشپړېدو وروسته، خلکو ته په کابل او نورو ولایتونو کې د ودانیزو چارو اجازه ورکړل شوې وه.

دا اقدام د کډوالو د بې سرپناهۍ ستونزې د حل په موخه ترسره شوی وو؛ خو له دې سره سره، د کورونو کرایې لا هم نه دي راکمې شوې.

هرات کې د هنري . . .

ده وویل: په دغه نندارتون کې د هرات هنرمندانو له لوري جوړ شوي ۱۰۰ هنري اثار، چې خطاطي او نقاشي پکې شاملې دي، د هنر مینهوالو ته د ننداري لپاره ایښودل شوي دي.

د غلام محمد میمنه ګي هنري ښوونځي امر محمد هاشم شارق وویل، چې د دغې سیالۍ موخه د هنري استعدادونو پېژندنه ښودل شوې ده.

ده زیاته کړې، چې اړوند ریاست هڅه کوي د هنرمندانو د ودې، پیاوړتیا او لا ښه معرفي کېدو لپاره لا زیات فرصتونه برابر کړي.

خوست کې دوې . . .

ده وویل، قومي مشران او ځوانان د ټولنیزو ستونزو په هوارې کې مهم رول لري او دا یې ملي او دیني مسؤلیت دی.

همدارنګه، د مراسمو یو تن ګډونوال مولوي محمد داود ترابي وویل، اوس مناسب فرصت برابر شوی، چې د ولسونو، قومونو او کورنیو ترمنځ شته شخړې د خبرو او تفاهم له لارې هوارې شي.

نوموړي له قومي مشرانو وغوښتل، چې له هغو ناسمو دودونو او خبرو ډډه وکړي، چې د دښمنیو د دوام لامل ګرځي.

د مراسمو په پای کې د تنیو ولسوالۍ خطیب مولوي احسان الله د روغې جوړې پرېکړهلیک ولوست، چې دواړو کورنیو پرې رضایت څرګند کړ او ژمنه یې وکړه، چې له دې وروسته به د ورورولۍ، سولې او متقابل درناوي په فضا کې ژوند کوي.

د یادونې وړ ده، چې د روغې جوړې مراسم د پښتني دود له مخې د دواړو کورنیو د مشرانو ترمنځ د «ټوپۍ رنګولو» او غاړې ورکولو په دود پای ته ورسېدل او په دې سره د دواړو کورنیو ترمنځ د دوستۍ او پخلاینې نوی پړاو پیل شو. باختر

پکتیا پوهنتون . . .

پوړیزې ودانۍ او د فاضله اوبو د څاه جوړولو چارې د ۲۶ میلیونه ۹۰۰ زره افغانیو په لګښت پیل شوې وې.

چین کې توپان . . .

هم راپور ورکړی چې د دوشنبې ماښام په هوبې ولایت کې سختو توپانونو اته کسان مړه کړي، یو کس ورک دی او لږ تر لږه ۲۷۵ نور یې ټپیان کړي دي. د هواپېژندنې د چارواکو په وینا، په ځینو سیمو کې د باد چټکتیا په ساعت کې ۱۴۹ کیلومترو ته رسېدلې ده. د چین د هواپېژندنې ملي مرکز خبرداری ورکړی چې په راتلونکو ورځو کې به هم سخت بارانونه دوام وکړي او د هېواد په یو شمېر سیمو کې د سېلابونو، د ځمکښویېدنې او ګردبادونو رامنځته کېدو خطر شته. همدارنګه، چین د «باوي» په نوم د یوه ځواکمن سوپریا توپان د نږدې کېدو لپاره هم چمتووالی نیسي؛ دغه توپان چې د باد چټکتیا یې په ساعت کې ۲۹۰ کیلومترو ته رسېږي، د تایوان پر لور روان دی.

بلوچستان کې . . .

د پاکستان رسنۍ وایي، چې د بلوچستان

جسدونه د زیارت ولسوالۍ روغتون ته لېږدول شوي دي. په ورته مهال، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر محسن نقوي دغه برید غندلی دی.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: **انجنیرعُزیز بریالی**
آمر او مسئول مدیر: **محمد قاسم عزام**
مسئول سکرتر: **شېرمحمد نظري**
ډیزاینر: **محمدیونس مایار**
د ویبپاڼې مدیر : **ګل ولي افغانیار**
چاپ پته: **آزادي مطبعه، امارتي شرکت**
پته: **اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل**

بریښنایی بڼه

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٦.٢٠ اف
یو یورو	٧٥.٥٠ اف
یو پونډ	٨٥.٤٠ اف
یو درهم	١٨.٠٣ اف
زر ریال	٠٣٨.٠٣٧ اف
زر کلدارې	٢٣٠.٢٢٩ اف
زر کلدارې	٧٥٦.٧٤٦ اف

د هوا حالات	↑	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	↓
	٠٤:٤٠	٣٣°C	٣٦°C	٤١°C	٤٠°C	٤٢°C	٤٣°C	٣٠°C	٠٧:٠٨

د صنعت او کانونو په نندارتون کې د څه باندې یو میلیارد ډالرو په ارزښت هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د صنعت او معدن اونۍ پنځم ملي او نړیوال نندارتون
پنجمین نمایشگاه ملی و بین‌المللی هفته صنعت و معدن
The 5th Industry and Mining Week National & International Exhibition
July, 202
۱۴۰۵ سرطان
INTERNATIONAL EXPO
نمایشگاه بین‌المللی
و معادن

د صنعت او کانونو اوونۍ کورني او نړیوال نندارتون کې ۵۰ هوکړې لیکونه د څه باندې ۱ میلیارد ډالرو په ارزښت لاسلیک شوي دي. په یادو تړونونو کې یوازې ۱۰ هوکړه لیکونه د اوسپنې تولنې د خامو موادو په برخه کې د ایران له هېواد سره لاسلیک شوي دي.

د نندارتون په پای غونډه کې د صنعت او سوداګرۍ وزیر، نورالدین عزیزي، وویل: «نندارتون په غوره توګه پای ته ورسېده، چې صنعتکارانو ته د لاسته راوړنو ډک وه. تولیدات مو ورځ تر بلې پراختیا پیدا کوي، هیله شته چې په ډېرو برخو کې ځان بسیاینې ته ورسېږو. دا ډول نندارتونونه کولای شي چې د صنعتکارانو ملاتړ وکړي او بازارونو ته لاره پیدا کړي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت هڅه کړې ده چې د هېواد . . .

۳مخ

هرات کې د هنري اثارو نندارتون پرانیستل شو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنرستان ریاست له لوري د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په همکارۍ په دغه ولایت کې د «هنري او فرهنګي سیالۍ» تر سرلیک لاندې د سلو هنري اثارو نندارتون جوړ او سیالۍ ترسره شوې.

د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګ او هنر آمر مولوي عبدالمتین عادل باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې دغه نندارتون د هنرمندانو ترمنځ د ترسره شویو هنري سیالیو ارزونې په مناسبت جوړ شوی دی.د نوموړي په وینا، دغه هنري سیالۍ په تېرو دوو ورځو کې د ۴۰ هنرمندانو په ګډون ترسره شوې او په پایله کې یې شپږو تنو غوره مقامونه خپل کړل . . .

۳مخ

کابل کې د کورنو کرایېو له لوړېدو پرلپسې شکایتونه؛ ولس یې د حل غوښتنه کوي

د مناسبي سرپناه لرل د هرې کورنۍ له اساسي اړتیاوو څخه ده؛ خو په وروستیو میاشتو کې په ډېرو ولایتونو کې د کورونو د کرایو پرله پسې لوړېدو یو شمېر هېوادوال د استوګنځي موندلو برخه کې له ګنو ستونزو سره مخ کړي دي. په کابل کې هم ډېرې کورنۍ وايي، چې د اقتصادي ستونزو ترڅنګ یې د کورونو لوړې کرایې، ژوند له فشارونو سره مخ کړی او د کور کرایه ورکول ورته یوه جدي ستونزه جوړه شوې ده.

د کابل اوسېدونکي، احسان، وايي: ((په رسنیو کې اعلان وشو، چې د کورونو کرایې باید راکمې شي؛ خو له بده مرغه هېڅوک ورته پام نه کوي. زه خپله په کرایي کور کې اوسېږم؛ د هغه کور کرایه چې مخکې له ۷ تر ۸ زره افغانیو پورې وه، اوس له ۱۵ تر ۱۷ زره افغانیو پورې لوړه شوې ده.))

د کابل یو بل تن اوسېدونکی دی، جاوید وايي: ((موږ په کرایه کور کې له دولسو کلونو راهیسې اوسېږو. په دې موده کې یې دوه ځله کرایه لوړه شوې او په وروستیو ورځو کې له ۷ زره ۱۲ زره افغانیو ته رسېدلې ده.))

یو شمېر هېوادوال له حکومته غواړي، چې د کورونو . . .

۳مخ

خوست کې ۱۴۰ کلنه دښمني؛ د اسلامي امارت د مشرانو په هڅو دوه کورنۍ سره پخلا شوې

د افغانستان اسلامي امارت
خوست ولایت مقام

د خوست د تنیو ولسوالۍ په سنکیو کلي کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو ریاست، قومي مشرانو او مصلحینو په ګډو هڅو د دوو کورنیو ترمنځ له ۱۴۰ کلنې دښمنۍ وروسته روغه جوړه وشوه.

د یاد ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو رئیس مولوي میا محمد ولي صدیقي وايي، چې د نیاز محمد او میرعاجم خان کورنیو ترمنځ یاده دښمني شاوخوا ۱۴۰ کاله پخوانۍ وه، چې له امله یې د یوې کورنۍ یو غړی وژل شوی و.

ده زیاته کړه، چې د شخړو د مخنیوي کمېسیون له جوړېدو وروسته د خپلمنځي شخړو د هوارۍ بهیر چټک شوی او دا په خوست کې ۱۱۳مه روغه جوړه ده، چې د قومي مشرانو او مصلحینو په همکارۍ حل کېږي.

د ده په خبره، تولې ثبت شوې خپلمنځي شخړې تر څار لاندې دي او د حل لپاره یې هڅې روانې دي.

د تنیو ولسوالۍ د قومي مشرانو په استازیتوب حاجي شروف تني له قومي مشرانو او ځوانانو وغوښتل، چې د خپلمنځي شخړو د حل لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي . . .

۳مخ

بدخشان کې د یوې پروژې چارې بشپړې شوې

د بدخشان د مرکز فیض اباد ښار د استقلال څلورلارې د یو سوداګر په مالي ملاتړ د ۲ میلیونه افغانیو په لګښت جوړه او پرانیستل شوه.د بدخشان والي مولوي محمد اسماعیل غزنوي د یادې څلورلارې د پرانیستې په مراسمو کې د اړوندو ادارو له همکارۍ څخه مننه کړې او ویلي یې دي، چې خلکو ته د غوره خدمتونو وړاندې کول یې له لومړیتوبونو څخه دي او په دې برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

د نوموړي په وینا، د استقلال څلورلارې نوی ډیزاین نه یوازې د ښار ښکلا زیاته شوې، بلکې د موټرو او ښاریانو د تګ راتګ لپاره هم لازمې اسانتیاوې رامنځته شوې دي.په ورته وخت کې د فیض اباد ښار اوسېدونکو د یادې څلور لارې په جوړېدو خوښي څرګنده کړې او له دولت څخه یې د ښاري ښکلا په برخه کې د ورته نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه کړې ده.

د مخابرې او معلوماتي تکنالوژۍ ریاست څخه ۷۵ ځوان منسوبین فارغ شول

دفاع وزارت وايي، چې د ستردرستیز د مخابرې او معلوماتي تکنالوژي ریاست د مخابرې له دوه میاشتني مسلکي کورس څخه د بېلابېلو قطعاتو او جزوتامونو ۷۵ تنه منسوبین د وسلوال پوځ لوی درستیز مرستیال حاجي مالي خان (صدیق) د یاد ریاست رئیس مولوي صلاح الدین خویدم د امربالمعروف او عقیدتي چارو رئیس مولوي سیداغا ابو مقبول عاکف او یو شمېر نورو مسؤلینو په ګډون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې فارغ شول.

د وسلوال پوځ لوی درستیز مرستیال حاجي مالي خان صدیق یادو فارغانو ته ویلي:« تاسو د دې اسلامي نظام واقعي ساتونکي یاست، دا یو ستر مسؤلیت دی چې تاسو ته در وسپارل شو په پوره معنی خپل مسؤلیت ادا کړئ، خپل مورال مو تل د دښمن په وړاندې د فولادو په څېر کلک وساتئ او په خپل مسلک کې ځانونه ورسوئ».

پکتیا پوهنتون کې د څه باندې ۲۰ میلیونه افغانیو په لګښت د یوې پروژې چارې پیل شوې



په پکتیا پوهنتون کې د لوړو زده کړو وزارت د پراختیایي بودیجې څخه د ۲۰ میلیونه ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت د شپږ پوړیزې شپه غالي (لیلې) ودانۍ د پاتې رغنیزو چارې پیل شوې.

د پکتیا پوهنتون رئیس شیخ الحدیث مولوي صفت الله حقاني د یادې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې وویل چې د یادې ودانۍ چارې به په ټاکلي وخت د تخنیکي معیارونو په پام کې نیولو سره بشپړې شي.

د نوموړي په وینا د یادې پروژې په بشپړېدو سره به محصلینو ته د استوګنې اسانتیاوې برابرې شي،

د یادونې وړ ده، چې څو ورځې وړاندې هم په پکتیا پوهنتون کې د لومړي بلاک د شپږ . . .

۳مخ

بهرني لنډ خبرونه

حماس په غزه کې خپل حکومت منحلوي؛ واک د فلسطیني متخصصانو یوې خپلواکې ډلې ته سپاري

حماس اعلان کړی، چې په غزه کې یې خپل شاوخوا لس کلن حکومت منحل کړی او چمتو دی، چې د اداري واک د فلسطیني متخصصانو یوې خپلواکې ډلې ته وسپاري. رویټرز په خپل راپور کې د حماس له قوله ویلي، دا پرېکړه د غزې د راتلونکې په اړه د امریکا د وړاندیز شوې طرحې په چوکاټ کې شوې ده. حماس همداراز ټینګار کړی، چې د امریکا په منځګړیتوب له اسرائیلو سره د اوربند له هوکړې وروسته به د خپلو تر کنټرول لاندې سیمو امنیتي چارې هماغسې پر مخ وړي.

شنونکي باور لري، که دا پرېکړه په عملي ډول پلې شي، نو ښایي د غزې د اداري جوړښت، د بیارغونې د بهیر او د نړیوالو مرستو د همغږۍ لپاره نوی فصل پرانیزي؛ خو دوی ټینګار کوي چې د دې بهیر بریا به تر ډېره د فلسطیني ډلو ترمنځ د سیاسي هوکړې، د امنیتي وضعیت د ثبات او د اسرائیلو او منځګړو لوړو ترمنځ د راتلونکو تفاهمونو له پرمختګ سره تړلې وي.

چین کې توپان او ځمکښویېدنه؛ اته کسان مړه او نږدې ۳۰۰ نور ټپیان شوي

د چین دولتي رسنیو راپور ورکړی، چې د دغه هېواد په ګانسو ولایت کې د ځمکښویېدنې له امله لږ تر لږه ۱۶ کسان تر خاورو لاندې شوي؛ هممهاله، په هوبې ولایت کې سختو توپانونو اته کسان مړه او ۲۷۵ نور ټپیان کړي دي. د چین دولتي تلوېزیون (CCTV) راپور ورکړی، چې په ګانسو ولایت کې د ځمکښویېدنې پر مهال ټول ۳۳ کسان تر خاورو لاندې بند پاتې وو، چې تر اوسه ۱۷ کسان ژغورل شوي او د پاتې ۱۶ کسانو د ژغورنې عملیات روان دي. د راپور له مخې، د چین ولسمشر شي

جین‌پینګ اړوندو ادارو ته لارښوونه کړې، چې د پېښې د زیانمنو د ژغورنې لپاره ټول امکانات وکاروي. د ځمکښویېدنې اصلي لامل لا نه دی څرګند شوی؛ خو دا پېښه داسې مهال شوې، چې د چین بېلابېلې سیمې په وروستیو ورځو کې له سختو بارانونو او توپانونو سره مخ دي. د شینهوا خبري اژانس . . .

۳مخ

بلوچستان کې پر یوه امنیتي پوسته برید؛ نهه پولیس وژل شوي او پنځه نور وسله‌والو له ځان سره بیولي

د پاکستان رسنۍ وايي، چې د بلوچستان د زیارت ولسوالۍ پر یوه امنیتي پوسته برید کې نهه پولیس وژل شوي او پنځه نور وسله‌والو له ځان سره بیولي دي. جیو نیوز راپور ورکړی، چې دغه برید د بلوچستان د زیارت ولسوالۍ د منګي سیمې د پولیسو پر یوه پوسته شوی دی. د زیارت ولسوالۍ د پولیسو مشر عبدالقدوس ویلي، وسله‌والو له پوستې تر برید وروسته له پولیسو سره نښته کړې، چې په پایله کې یې نهه پولیس وژل شوي دي. د ده په خبره، بریدګرو له برید وروسته پنځه نور پولیس له ځان سره بیولي دي. نوموړي زیاته کړې چې د وژل شویو پولیسو . . .

۳مخ